د افغانستان اسلامي امارت
لـوړو زده کـړو وزارت

بسم الله الرحمن الرحیم

امارت اسلامي افغانستان
وزارت تحصیلات عالي

پکتیکا پوهنتون
علمي او محصلانو چارو معاونیت
اقتصاد پوهنځی
منجمنټ او د تشبثاتو د اداري څانګه

لیدلوری

د منجمنټ او تشبثاتو د اداري څانګه به په راتلونکي کې د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د پوه، متعهد او متخصص کاري ځواک په روزنې سره د هېواد په کچه یوه مخکښه او باکیفیته څانګه وي.

ماموریت

د منجمنټ او د تشبثاتو د اداري څانګه د اکاډمیک چاپېریال په لرلو سره د اسلامي او ملي ارزښتونو په رڼا کې د مدیریت او د تشبثاتو د اداري برخه کې د ټولنې د اړتیا مطابق په ملي کچه سیال او با کیفیته تدریس، تحقیق او خدمات وړاندې کوي.

د څانګې تشکیلاتي چارت



د څانګې د آمر د دندو لایحه

۱. په ټولو اړوند چارو کې د څانګې استازیتوب؛
۲. د څانګې د غونډو مشري؛
۳. د څانګې د اجنډا او کاري پلان ترتیب؛
۴. د څانګې د غونډو د پرېکړو په اړه اصولي اجراات او د علمي کادر غړو د تقرر، بیا ځلې تقرر، منفکي، ارتقاء، تثبیت او د علمي ترفیعاتو اسناد بشپړول؛
۵. د څانګې اړوند درسي نصاب د تطبیق او د نظري، عملي او ساحوي تدریس د پرمختګ له څرنګوالي څارنه؛
۶. د څانګې او پوهنځي د پرمختګ او ښه والي لپاره نوښتونه وړاندې کول؛
۷. د څانګې د اړتیاوو د پوره کولو هڅې؛
۸. د څانګې د اکاډمیکو او اداري چارو تنظیمول؛
۹. د څانګې د هغو غړو لپاره قدرداني او ستاینې وړاندیز کول چې، په تدریس، څېړنه او نورو اکاډمیکو کړنو کې خپلې وړتیاوې او نوښتونه وښیې؛
۱۰. د څانګې د هغو علمي کادر غړو لپاره د تادیبي کړنو وړاندیز کول، چې تخلف او سرغړونه وکړي؛
۱۱. د پوهنځي رئیس او علمي شورا ته د څانګې د فعالیتونو راپور وړاندې کول؛
۱۲. په هر سمستر کې د څانګې د علمي کادر غړو د اکاډمیکو کړنو ارزونه او د راتلونکو پرېکړو او تصمیمونو لپاره د پوهنځي علمي شورا ته راپور ورکول؛
۱۳. د درسي مکلفیتونو او نورو اکاډمیکو فعالیتونو تنظیمول؛
۱۴. د اړوند مسؤلینو لخوا د سپارل شویو نورو هغو فعالیتونو او دندو تر سره کول، چې د لوړو زده کړو په اصولو کې یې وړاندوینه شوي وي.

دغه چارت د منجمنټ او تشبثاتو اداري څانګې د ۱۴۰۴/۱۰/۲۱ نېټې په (۱۲) د اقتصاد پوهنځي د علمي شورا د (۱۴۰۴/۱۰/۲۴) نېټې په (۱۱) ګڼه پروتوکول کې تائید شوی دی.

د نشراتو او کلتوري چارو عمومي کمېټې لخوا